# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


بسمل

۱۶.۰۹.۰۹

## د بوتو ګوزار

ما خـاک روب کړي چې د ګرد ورېم په ککره

کــــوم ظـــالم راته لمبـــه کړي لر اوبره

ستـــا پـــه پاک ښـــکلي بدن مې پیرزو نه و

دپـــــردو د ګل ګـــــزار هـــــم دزړه ســـره

اوس د شـــپه ورځ په تېـر او ځګر ووري

د ښـــــکېلاک غشـــــي باران باران دلبـــره

چېرې غلی دخوشــــــال تبکي کي پروت یي

یـــو ځل بیا سرې جامي واغونده جمــــــره

شهیـــدان اوغازیـــان شول له ځمکي لاندي

پـــاس په ســـــر یي غلامــان دي بي ښمره

لوی شیـــطان د په رنا ورځ رانســـکور کړ

د بـــوتـــو ګـــوزار د جــــار شم راپورتره

تش په نـــوم مجاهدینو(۱) مخ مو تور شـه

هســـي وار مــو هم پري ونـه کړ له سره

د غـــازي امـــان الله مـــدال د ورکـــــړ

لاس دمـــــات په ســـترګو ړوند شـــي قاچاقبره

ستـــا له لاســـــه لر او بر نینـــه نینـه شول

دالـــه کومـــه را نازل شـــــوې فـرېبـــګره

دبســـ مل نـــاري به دپېـــر زلمیان را ویښ کا

لــــه امـــــو څـــخـــه نیـــولې تر خیبره

۱ ـ زما منظور له تش په مامه مجاهدینو څخه رباني، محقق او دانور داړه ماران یي دي که یاد مو وي کله چې تېر کال بوش بغداد ته ولاړ نویو هیواد پرست او اتل عراقي ژورنالیست چې همدانن له بند څخه خوشی شو دبوټونو ګوزارونه پرې وکړل خو کله چې همدا اشغالګر بوش کابل ته ولاړ نوتش په نامه مجاهدینو ورته مړې سترګي نیولې او غوړه مالي يي ورته کوله کرزي خو آن دغازي امان الله خان په نوم مـــــډال هم په غړی کې ور وتاړه